مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی ۲۰۲۱ / ۰۵ / ۰۶

د نعمت روان په یاد

څه په توره، څه په بم څه په زندان مري
دا څه حال دی هره ورځې چې افغان مري
کوم ضمیر ته به په ژوند ارام حاصل شي
په بمونو کباب شوي چې ځوانان مري
میندې بورې، خویندې بوري، ښځې کونډې
د شمشاد له قده پورته مو زلمیان مري
یتیمانو شمېر تر نیم نفوسه زیات شو
په دا حال که څوک وجدان لري، وجدان مري
د معیوبو احصایه به څوک رقم کړي
په سلګونو هره ورځې معیوبان مري
د انسان په انسانیت د سړي شک شي
د ښارونو پلونو لاندې چې روږدیان مري
حلاله د چرګ چرګوړي زغمل ګران دی
څونه ګرانه ده چې مخ کې دې انسان مري
جګړې هسې رنګ ناورین په وطن راوست
چې نږدې ده زموږ ټول نام ونښان مري
په تاریخ او په فرهنګ زلزله ګډه
تېر مو څه چې حال، اینده مو همزمان مري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د بامیانو د معبد پوښتنه وکړی
که نه دا ځل د معبد پرځای بامیان مري
کاشکي نه وای، دغه وخت ته رسېدلی
د ګېدړو په لاس چیري چې زمریان مري
دښمن دروغ وی چې نعمت یې له منځ یووړ
نه نعمت، نه د هغه روح او روان مري
اروا یې ښاده او یاد یې تلپاتې!

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ